بسم الله الرحمن الرحیم

سر یال نمبر: 313

یووالی، ایمان، انضباط

دملت غږ

# بنو (جاني خیل) د سیکیورټي فورسز لویه بریا، جاني خیل ځانمرګی برید کې ککړ 6 خوارج ترهګر وژل شوي او 3 ژوندي نیول شوي

د بنو په جاني خیل سیمه کې د استخباراتي معلوماتو په اساس امنیتي ځواکونو په بیلا بیلو ځایونو د عملیاتو په مهال د خوارج یو شمیر پټنځایونه په نخښه کړي۔

**د څو ساعتونو لپاره د سختو عملیاتو او د ډزو په تبادله کې د ټي ټي پي 6 مطلوب خوارج ووژل شول او 3 تنه په ټپي حالت کې ونیول شوي۔ له ترهګرو څخه په زیاته اندازه وسلې، مهمات او مخابراتي وسایل هم ترلاسه شوي دي۔ په عملیاتو کې امنیتي ځواکونو ته کوم زیان ندی اوښتی۔**





**وژل شوي او نیول شوي خوارج د 31 اګست په دریمه په جاني خیلو کې د امنیتي ځواکونو په کاروان ځانمرګی برید کې لاس درلود چې په عبرتناک انجام ته ورسید۔**

**پر امنیتي ځواکونو د ځانمرګي برید غندنه نه کول او د نن ورځې په بریالیو عملیاتو د پي ټي ایم چوپتیا د دوی د دروغو بیانیه په ډاګه کوي په داسې حال کې چې په لویه شمېره کې د ترهګرو شتون او ځایي سهولتکاري د جاني خېلو د خلکو لپاره سولیه نشان دے۔**

په بنو کې د ټي ټي پي دومره زیاتې وژنې او نیول که له یوې خوا د خوارج لپاره یوه لویه صدمه ده، نو له بلې خوا د امنیتي ځواکونو له خوا دا څرګند پیغام دی چې اوس به خوارج په خپلو پټنځایونو کې وژل کیږی او د عبرت نښان به جوړیږي۔
انشاء الله

مورخه: ۲۱ ستمبر ۲۰۲۳ء